

# د توبې داستان

Ketabton.com

ليکوال : د. محمد العريفى

ketabton.com - The Digital Library

ژباړن : اجمل هېوادمل



ketabton.com - The Digital Library

ستایش هغه خدای لره دی چې د ګناهونو ښنونکی او د توبې قبلونکی دی... هغه ذات چې سخت عذاب ورکوونکی او د نعمتونو خاوند دی... له هغه پرته بل هیڅ حق معبود نشته او ستنېدل یوازې د هغه لوري ته دي... صفتونه یوازې الله لره دي، هغه ذات چې وایي «شه»، نو هغه کار وشي... هغه چې په خپل رحمت یې موسی او قوم یې د فرعون له منګولو وژغورل... ستایش د الله لپاره دی... هغه چې د نوح علیه السلام د دعا پر مهال غوره قبلونکی (مجیب) و او په خپل رحمت یې یونس علیه السلام ته نجات ورکړ... او پاک او سپېڅلی دی هغه ذات چې له یعقوب علیه السلام څخه یې تکلیف لرې کړ او یوسف علیه السلام یې له کلونو وروسته هغه ته بېرته ورستون کړ... او شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل هیڅ حق معبود نشته چې یو او بې شریکه دی... او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او استازی دی... د خدای درود او سلام دې پر هغه، د هغه پر اهل بیت او اصحابو وي، اما بعد:

دا د هغو توبه کوونکو خاطرې او کیسې دي چې ډېری ګناهکارانو ترې عبرت اخیستی دی... دا د هغو مشرانو، سپینږیرو، ځوانانو او نجونو خاطرې دي چې د شهوتونو په لومو کې ګېر شوي وو او په لذتونو کې ډوب وو... دا د هغو تېرو شوو او هېرو شوو پېښو کیسې دي چې د عملونو په پاڼو ( اعمال نامه) کې ثبت او لیکل شوې دي...

**هو! دا د توبه کوونکو خاطرې او د هغو کسانو اعترافات دي چې بېرته د الله لوري ته وګرځېدل** او په هغه ﷻ پورې یې هیلې وتړلې... په داسې یو پېر کې چې غولوونکي ډېر دي او شهوتونه رنګارنګ... په داسې زمانه کې چې ډېرې پېښې ښوېدلې او ډېرو خلکو ګناهونه او نافرمانۍ کړي دي... د ایمان د کمزورۍ او د شیطان د ځواکمنۍ په دوران کې...

دا د هغو کسانو خاطرې دي چې د خپل مولا (عزوجل) پر دې وینا ایمان لري: ﴿نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٤٩﴾ [الحجر: 49]. «زما بندګانو ته خبر ورکړه چې بېشکه زه ډېر ښونکی او مهربان یم.» او په ورته وخت کې د الله پر دې وینا هم یقین لري چې: ﴿وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ٥٠﴾ [الحجر: 50].

ketabton.com - The Digital Library

«او دا چې زما عذاب، دردناک عذاب دی.»
دا د هغو کسانو کیسه ده چې پوه شول الله د توبه کوونکو په توبه خوشحاله کېږي... سره له دې چې هغه له دوی څخه بې‌نیازه دی او دوی ورته سخت اړ دي... الله به ولې د هغوی په توبه نه خوشحاله کېږي، حال دا چې فرمایلي یې دي: «اې زما بندګانو! تاسو شپه او ورځ ګناهونه کوئ او زه ټول ګناهونه بښم... نو له ما څخه بښنه وغواړئ چې ویې بښم...»

او پیغمبر ﷺ هغوی ته داسې خطاب کړی:

«بېشکه الله خپل لاس په شپه کې غوړوي ترڅو د ورځې ګناهکار توبه وکړي... او خپل لاس د ورځې غوړوي ترڅو د شپې ګناهکار توبه وکړي... تر هغه چې لمر له مغرب (لوېدیځ) څخه راوخېژي.»

**زموږ لومړی توبه کوونکی** یو درونډ سپین‌ږیری دی... اوس چې له دې بزرګوار څخه عمر تېر شوی، بدن یې کمزوری شوی او د سترګو رڼا یې کمه شوې... د خپلې ځوانۍ کیسه موږ ته کوي. موږ له کعب بن مالک (رض) سره کېنو او د تبوک له غزا څخه د هغه د پاتې کېدو کیسه له ده خپله اورو... د تبوک غزا وروستۍ غزا وه چې خپله پیغمبر ﷺ په کې ګډون درلود. رسول الله ﷺ خلکو ته د حرکت امر وکړ او له هغوی یې وغوښتل چې جګړې ته چمتو شي... همدارنګه یې د لښکر د تجهیز لپاره لګښت راټول کړ ترڅو د سرتېرو شمېر ۳۰ زرو ته ورسېد. د جګړې وخت د مېوو د پخېدو او د ونو تر سیوري لاندې د ناستې له خوند سره برابر و، هغه هم په سخته ګرمۍ او لرې لاره کې، په داسې حال کې چې یو پیاوړی دښمن ورته سترګې په لاره و. د مسلمانانو شمېر ډېر و او په دې غزا کې د ګډون کوونکو کسانو نومونه په کوم دفتر کې نه ثبتېدل. کعب (رض) ـ لکه څنګه چې په صحیحین کې روایت شوي ـ خپله کیسه داسې بیانوي:

«زه په ډېر ښه حالت کې وم... دوه (مرکبونه) مې برابر کړي وو او ځان مې تر هر بل وخت جهاد ته چمتو باله... په داسې حال کې وم چې د ونو سیوري او مېوو ته مې زړه ډېر کېده... په همدې حال کې وم چې پیغمبر ﷺ د بلې ورځې د حرکت لپاره چمتو شو. له ځان سره مې وویل: سبا بازار ته ځم، خپل سامان اخلم او له هغوی سره یوځای کېږم...

سبا بازار ته لاړم، یو کار مې مخې ته راغی او بېرته راغلم. له ځان سره مې وویل: سبا بېرته ځم او ان شاء الله له هغوی سره یوځای کېږم... خو بیا بل کار

ketabton.com - The Digital Library

راته پیدا شو. بیا مې له ځان سره وویل: سبا ځم، او په همدې ډول مې نن او سبا کول تر دې چې ورځې تېرې شوې او له رسول الله ﷺ سره له تګ څخه پاتې شوم. په بازارونو کې ګرځېدم او په مدینه کې مې قدم واهه، خو پرته له منافقانو یا هغو کسانو چې معذور وو، بل څوک په مدینه کې نه وو.» هو! کعب په مدینه کې پاتې شو او جهاد ته له تګه بې‌برخې شو... خو رسول الله ﷺ او ۳۰ زره ملګري يې لاړل ترڅو تبوک ته ورسېدل. کله چې هلته ورسېدل، د خپلو اصحابو مخونو ته یې وکتل، خو خپل یو ملګری يې چې د عقبه په بیعت کې شامل و، په هغوی کې ونه موند. نو له خپلو ملګرو یې وپوښتل: «کعب بن مالک څه شو؟!»

یو سړي وویل: ای د الله رسوله! دوو څادرو او خپلو اړخونو ته کتلو هغه له تاسو سره له ملګرتیا څخه راوګرځاوه!

معاذ (رض) وویل: څومره بده خبره دې وکړه... ای د الله پیغمبره! موږ له هغه

څخه پرته له نېکۍ بل څه نه دي لیدلي.

نو رسول الله ﷺ هیڅ ونه ویل.

کله چې د تبوک غزا پای ته ورسېده او پیغمبر ﷺ مدینې ته د راستون کېدو په حال کې و، زه ډېر غمجن شوم. له ځان سره مې ویل: «سبا به څنګه د رسول الله ﷺ له پوښتنې او ګرویږنې ځان ژغورم؟» په دې اړه مې د خپلې کورنۍ له پوهانو هم مرسته وغوښته...

خو کله چې پیغمبر ﷺ مدینې ته راورسېد، زه پوه شوم چې یوازې رښتیا ویل ما ژغورلی شي.
رسول الله ﷺ مدینې ته داخل شو، لومړی مسجد ته لاړ، دوه رکعته لمونځ یې وکړ او بیا د خلکو د کتنې لپاره کېناست. هغه کسان چې له غزا پاتې وو (چې اتیا او څو تنه وو)، راغلل، عذرونه یې وړاندې کړل او قسمونه یې یاد کړل. پیغمبر ﷺ د هغوی ظاهري خبره ومنله، ښنه یې ورته وغوښته او د هغوی د زړونو رازونه یې الله تعالی ته وسپارل...

تر هغه چې کعب بن مالک راغی او سلام یې وکړ. پیغمبر ﷺ ورته وکتل او د

ketabton.com - The Digital Library

غصې په حالت کې یې ورته مسکې شو او ویې فرمایل: «راشه...» کعب ورغی او د هغه ﷺ په وړاندې کېناست. پیغمبر ﷺ ترې وپوښتل: «څه شي له غزا راوګرځولې؟ ایا (مرکب) دې نه و اخیستی؟»

کعب وویل: «هو (اخیستی مې و).»

ویې فرمایل: «نو بیا ولې پاتې شوې؟»

کعب وویل: «ای د الله رسوله! زه پوهېږم چې که زه له تاسو پرته د ځمکې پر مخ د بل چا په وړاندې ناست وی، په خپل فصاحت او ژبورتیا مې کولای شول په یو ډول عذر ځان خلاص کړم... خو په خدای قسم که نن تاسو ته دروغ ووایم ترڅو له ما خوشحاله شئ، لرې نه ده چې الله به تاسو ببرته راباندې په غوسه کړي. او که رښتیا ووایم چې تاسو راباندې په غوسه شئ، هیله لرم چې الله به مې عاقبت نېک کړي. په خدای قسم هیڅ عذر مې نه درلود... هیڅکله دومره قوي او وسمن نه وم لکه په هغه وخت کې چې له تاسو پاتې شوم.» بیا چوپ شو. رسول الله ﷺ خپلو اصحابو ته مخ واړاوه او ویې فرمایل:

«خو دې سړي تاسو ته رښتیا وویل... پاڅېږه تر هغه چې الله ستا په اړه پرېکړه وکړي.»

کعب په داسې حال کې چې غمجن و، له مسجده راووت او نه پوهېده چې الله به یې په اړه څه حکم کوي. د هغه قوم چې دا حال ولید، ورپسې شول او ملامتیا یې پیل کړه: «په خدای قسم موږ کله هم نه وې لیدلی چې کومه ګناه دې کړې وي... ته شاعر او ویاند یې، ایا دومره عاجز وې چې د نورو په څېر یو عذر وړاندې کړې؟ ستا لپاره همدا بس وه چې رسول الله ﷺ درته بښنه وغواړي!» دوی دومره ملامت کړم چې نږدې و ببرته لاړ شم او خپل رښتیا په دروغو بدل کړم. بیا مې وپوښتل: «ایا بل چا هم زما په څېر رښتیا ویلي؟» ویې ویل: «هو، دوو نورو کسانو هم ستا په څېر رښتیا وویل او پیغمبر ﷺ ورته هماغه خبره وکړه چې تاته یې کړې وه.» ما وویل: «هغوی څوک دي؟» ویې ویل: «مراره بن ربیع العامري او هلال بن امیه الواقفي.»

ketabton.com - The Digital Library

کعب وویل: «د داسې دوو نېکو کسانو نومونه يې واخيستل چې په بدر کې يې ګډون کړی و او ما ورپسې اقتدا کولای شوه. نو ومې ويل: په خدای قسم چې نه بېرته ګرځم او نه ځان دروغجن کوم.»

کعب په مات او غمجن زړه کور ته لاړ او په کور کې کېناست. ډېر وخت نه و تېر شوی چې پيغمبر ﷺ خلک له کعب او د هغه له دوو ملګرو سره له خبرو کولو منع کړل.

**کعب وايي:**

خلکو له موږ نه ډډه کوله او زموږ په وړاندې يې رويه بدله شوه. بازار ته به تلم خو هيڅ چا راسره خبرې نه کولې... خلکو داسې ځان ناګمانه کولو ګواکې موږ نه پيژني. حتی د مدينې ديوالونه او ځمکه راته پردۍ شوله. زما دواړه ملګري په خپلو کورونو کې کېناستل او په ژړا يې شپې سبا کولې، حتی خپل سرونه يې له کوره نه راويستل. خو زه له هغوی ځوان او تکړه وم؛ له کوره به وتلم، په جومات کې مې لمونځ کاوه، په بازار کې به ګرځېدم، خو چا راسره خبرې نه کولې. جومات ته به د رسول الله ﷺ حضور ته ورتلم او سلام به مې کاوه، له ځان سره به مې ويل: «ايا د پيغمبر ﷺ شونډې به زما د سلام ځواب ته وخوځېږي که نه؟» بيا به مې نږدې لمونځ کاوه او په غلا به مې ورته کتل؛ کله به چې زه په لمانځه بوخت شوم، هغه ﷺ به راته کتل او کله به چې ما ور وکتل، هغه ﷺ به مخ اړاوه.

د کعب ورځې همداسې تېرېدې... درد پسې درد. هغه د خپل قوم له مشرانو او د عربو يو تکړه شاعر و، حتی پاچاهانو هغه پيژانده. خو نن... په مدينه کې چا ورته نه کتل!

په همدې سختۍ کې، هغه له بلې ازموينې سره مخ شو. يوه ورځ په بازار کې روان و چې يو نصرانی يې وليد چې له شامه راغلی و او خلکو ته يې ويل: «څوک ما د کعب بن مالک لوري ته بيولای شي؟» خلکو کعب ته اشاره وکړه. هغه سړی کعب ته راغی او د غسان د پاچا ليک يې ورکړ!

کعب ليک خلاص کړ، په کې ليکلي وو:

ketabton.com - The Digital Library

«...اما بعد، ای کعبه! خبر شوی یم چې ستا ملګري (پیغمبر) له تا سره جفا کړې او ته يې شړلی يې. الله ته د سپکاوي په ځای کې نه يې پرېښی؛ موږ ته راشه چې ستا قدر وکړو او درسره مرسته وکړو.»
کله چې کعب لیک ولوست، ويې ویل: «انا لله و انا الیه راجعون! د کفر خلک هم راته طمع کوي... دا بله ازموینه ده.» بیا یې لیک په تنور کې واچاوه او ويې سوځاوه.

۴۰ ورځې تېرې شوې. يو ناڅاپه د پیغمبر ﷺ استازی راغی او د کعب دروازه یې وټکوله. کعب شاید فکر کاوه چې د ببښنې حکم راغلی، خو استازي وویل: «پیغمبر ﷺ حکم کړی چې له خپلې مېرمنې څخه لرې پاتې شې.»

کعب وویل: «طلاق یې کړم؟»

ويې ویل: «نه، خو ترې لرې اوسه او نږدېوالی ورسره مه کوه.»
کعب خپلې میرمنې ته وویل: «خپل پلارګنۍ ته لاړه شه تر هغه چې الله په دې اړه پرېکړه وکړي.»

دا حکم د هغې دوو نورو ملګرو ته هم ورسېد. د هلال بن امیه مېرمن پیغمبر ﷺ ته راغله او ويې ویل: «ای د الله رسوله! هلال یو ضعیف بوډا دی، ایا اجازه راکوې چې خدمت یې وکړم؟»

ويې فرمایل: «هو، خو نږدېوالی درسره ونه‌کړي.»

مېرمنې يې وویل: «ای رسول الله! په خدای قسم هغه هیڅ شي ته زړه نه ښه کوي، له هغې ورځې چې دا کیسه شوې، شپه او ورځ یوازې ژاړي.»

سختې ورځې یوه په بلې پسې تېرېدې او د مسلمانانو پرېکون پر کعب دومره سخت شو چې حتی په خپل ایمان یې شک وکړ... له مسلمانانو سره به یې خبرې کولې خو هغوی ځواب نه ورکاوه، رسول الله ﷺ ته به یې سلام کاوه خو هغه ﷺ به ځواب نه وایه. کعب به له ځان سره ویل: چېرته لاړ شم؟ له چا سره مشوره وکړم؟
خپله کعب (رض) وايي:

ketabton.com - The Digital Library

«کله چې دا مصیبت راباندې اوږد شو، لاړم او د خپل تره زوی ابوقتاده د باغ له دېواله واوښتم، هغه زما تر ټولو ګران دوست و. سلام مې پرې وکړ... خو په خدای قسم چې ځواب یې رانکړ! ورته مې وویل: اې ابوقتاده! تاته د خدای قسم درکوم، ایا ته پوهېږې چې زه له الله او د هغه له رسول سره مینه لرم؟ هغه هیڅ ونه ویل. بیا مې خپله خبره تکرار کړه او قسم مې ورکړ، خو هغه بیا هم چوپ پاتې شو. په درېیم ځل مې چې قسم ورکړ، نو ویې ویل: "الله او د هغه رسول ښه پوهېږي."»

کعب چې کله دا ځواب له خپل تر ټولو نږدې کس څخه واورېد چې حتی د ده په مومن توب شکمن دی، ویې نه شوای زغملی؛ سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، له باغه راووت او کور ته لاړ. د کور دېوالونو ته یې وکتل؛ نه مېرمن وه چې ورسره کښېني او نه دوست چې ډاډ ورکړي. له هغې ورځې چې رسول الله ﷺ له دوی سره خبرې کول منع کړي وو، پنځوس ورځې تېرې شوې وې.

**د خلاصون زېری:**

تر هغه چې په پنځوسمه شپه... د شپې په وروستۍ برخه کې، د دوی د توبې د قبلېدو حکم پر پیغمبر ﷺ نازل شو. بي بي ام سلمه (رض) وویل: «ای د الله رسوله! ایا کعب ته زېری ورنکړو؟» ویې فرمایل: «که داسې وکړو، نو خلک به دلته راټول شي او ټوله شپه به خوب ونهکړئ.»

کله چې پیغمبر ﷺ د سهار لمونځ وکړ، خلکو ته یې د هغوی د توبې د قبلېدو خبر ورکړ. خلک د زېري ورکولو لپاره هغوی ته ورغلل. کعب وایي: «ما د یو کور پر بام د سهار لمونځ وکړ... په داسې حال کې چې ساه مې تنګېدل او ځمکه له ټولې پراخۍ سره راباندې تنګه شوې وه. تر هر څه زیات په دې غمجن وم چې که مړ شم نو پیغمبر ﷺ به راباندې لمونځ ونهکړي، او که هغه ﷺ وفات شي نو زه به د تل لپاره د خلکو له پامه لوېدلی پاتې شم. په همدې حال کې مې د سلع له غره د یو چا غږ واورېد چې په چیغو یې ویل: "ای کعب بن مالکه! زېری دې وي!"»

کعب وایي: «زه سمدستي سجدې ته پرېوتم او پوه شوم چې د الله له لوري خلاصون راغی. یو سړی پر آس راغی چې زېری راکړي، خو د غره له سره د هغه بل سړي غږ تر آس چټک راورسېد. کله چې زېري ورکوونکی راغی،

ketabton.com - The Digital Library

ما خپلې جامې له تن نه وويستلې او هغه ته مې د زيري په توګه ورکړې. په خدای قسم له هغو پرته مې نورې جامې نه لرلې، نو له بل چا مې جامې په پور واخيستې او ومې غوستلې.»

کعب جومات ته لاړ، خلک ډلې ډلې ورته راتلل او مبارکي يې ورکوله. کله چې جومات ته ننوت او رسول الله ﷺ ته يې سلام وکړ، د هغه ﷺ مبارک مخ له خوښۍ ځلېده. کعب وپوښتل: «ای د الله رسوله! ايا دا ښښنه ستاسو له لوري ده که د الله له لوري؟» ويې فرمايل: «نه، بلکې د الله له لوري ده.» بيا يې د توبې په اړه نازل شوي آياتونه تلاوت کړل.

کعب وويل: «ای د الله رسوله! الله زه د رښتيا ويلو په برکت وژغورلم؛ نو زما د توبې برخه دا ده چې تر څو ژوندی يم، پرته له رښتيا به بل څه نه وايم.»
**په قرآن کې د توبې ذکر:**

الله تعالی د کعب او د هغه د دوو ملګرو په اړه داسې آياتونه نازل کړل چې تر نن ورځې تلاوت کېږي:

﴿...وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رحت وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ...﴾ [التوبة: 118].

«...او پر هغه درېيو تنو هم (الله توبه قبوله کړه) چې (د توبې حکم يې) وروسته شوی و، تر دې چې ځمکه له خپلې تولې پراخۍ سره پرې تنګه شوه او خپل ځانونه هم ورته تنګ شول او پوه شول چې له الله پرته بل هيڅ پناه ځای نشته، بيا الله پر هغوی پام وکړ ترڅو توبه وکړي؛ بېشکه الله توبه قبلوونکی او مهربان دی.»
**د توبې برکتونه:**

الله تعالی د توبه کوونکو په توبه دومره خوشحاله کېږي چې نه يوازې ګناهونه يې ښني، بلکې بدۍ يې هم په نېکيو بدلوي. لکه څنګه چې په سورت الفرقان کې فرمايي:
﴿إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖ...﴾
«مګر هغه څوک چې توبه وکړي، ايمان راوړي او نېک عمل وکړي، نو الله د هغوی بدۍ په نېکيو بدلوي...»

ketabton.com - The Digital Library

حتی امام بخاري روایت کوي چې حکیم بن حزام (رض) له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل: «هغه نېک کارونه چې ما په جاهلیت کې کړي وو (لکه صدقه او د مریانو ازادول)، ایا اجر لري؟» رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: «ته په داسې حال کې اسلام ته داخل شوې چې تېر نېک کارونه دې درته منل شوي دي.» **الله اکبر!**

ګناهونه ښنل کېږي، بدۍ په نېکیو بدلېږي او حتی د تېر وخت نېکۍ هم نه ضایع کېږي. له دې وروسته بل څه پاتې شول؟ د الله رحمت هر څه رانغاړلي دي.

هغه ذات توبه‌قبلوونکی او مهربان دی... هغه چې رحمت یې پر هر څه برلاسی دی... خو د هغه رحمت نېکانو ته نږدې دی؛ هغو کسانو ته چې کله ورته نصیحت وشي، پند اخلي. ځکه اصلي ستونزه پخپله ګناه نه ده، بلکې لویه بدبختي دا ده چې انسان په ګناه عادت شي، خطر یې کم وګڼي او توبه ونه کړي. الله تعالی پر خپلو بندګانو ډېر مهربان دی؛ رحمت یې تر غصې ګړندی او ښښنه یې تر عذاب مخکې ده. په خدای قسم چې هغه د خپلو بندګانو لپاره تر مورروپلار هم زیات مهربان دی.

په صحیحین کې راغلي چې د هوازن له غزا وروسته، کله چې بندیان راټول شول، رسول الله ﷺ په اسیرانو کې یوه ښځه ولیده چې خپل ماشوم یې ورک کړی و او په ډېرې وارخطایۍ یې لټاوه. هغې په ماشومانو او نوزادانو کې پلټنه کوله، یوازینۍ هیله یې دا وه چې خپل جګر ټوټه په غېږ کې ونیسي، که څه هم په دې لاره کې یې ژوند له خطر سره مخ و. کله یې چې ماشوم پیدا کړ، د مور اوښکې وچې شوې، هغه یې په غېږ کې ونیوه، ښکل یې کړ او خپلې سینې یې ورته په خوله کې ورکړې.

رحمت‌العالمین ﷺ دا ننداره کوله، خپلو اصحابو ته یې مخ ور واړاوه او ویې فرمایل:
«دا ښځه وینئ؟ ایا ستاسو په نظر دا ممکنه ده چې دا خپله ماشوم په اور کې واچوي؟»
اصحابو په تعجب وویل: «نه، ای د الله رسوله! په خدای قسم چې دا کار نه کوي.»

ketabton.com - The Digital Library

پیغمبر ﷺ وفرمایل: «په خدای قسم چې الله تعالی پر خپلو بندګانو تر دې مور هم زیات مهربان دی.»

**د بوډا توبه او د تېر وخت بښنه:**

هو! زموږ پروردګار تر موروپلار مهربان دی، ځکه یې د توبې دروازه د هر چا لپاره خلاصه پرېښې ده؛ که څه هم بنده شرک، کفر او سرکشي کړې وي.

هغه سپین‌ږیری وګورئ چې په ډېر بوډاتوب کې رسول الله ﷺ ته راغی، په عصا یې تکیه کړې وه او بانه یې پر سترګو راغلې وه. په داسې غږ چې درد په کې و، ویې ویل:

«ای د خدای پیغمبره! که یوه سړي ډېر ګناهونه کړي وي، هیڅ بده کړنه یې نه وي پرېښې او که ګناهونه یې د نړۍ پر خلکو وویشل شي، ټول به تباه کړي... ایا د هغه توبه قبلیږي؟»

پیغمبر ﷺ ورته وکتل او ویې فرمایل: «ایا اسلام دې منلی؟»

ویې ویل: «زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او ته د هغه استازی یې.»

پیغمبر ﷺ وفرمایل: «نېک کارونه کوه او بدۍ پرېږده؛ الله به ستا ټولې تېرې ګناهونه په نېکیو بدل کړي.»

بوډا په حیرانتیا وپوښتل: «حتی زما خیانتونه او بدکاري هم؟»

ویې فرمایل: «هو!»

هغه بوډا له ډېرې خوښۍ چیغه کړه: «الله اکبر! الله اکبر!» او په همدې شعارونو له سترګو پناه شو.

**د بني اسرائیلو د ګناهکار کیسه:**

ابن قدامه په خپل کتاب «التوابین» کې لیکي:

ketabton.com - The Digital Library

د موسی علیه السلام په زمانه کې په بني اسرائیلو کې سخته وچکالي راغله. خلک موسی (ع) ته ورغلل چې دعا وکړي. موسی (ع) دعا وکړه، خو اسمان لا پسې تود او وچ شو.

الله تعالی وفرمایل: «ای موسی! ستاسو ترمنځ یو داسې بنده شته چې څلوېښت کاله یې زما نافرماني کړې، تر څو چې هغه ستاسو له منځه ونه وځي، باران نه اوروم.»

موسی (ع) په قوم کې غږ وکړ: «ای ګناهکار بنده! پاڅېږه او له موږ نه جلا شه چې ستا له امله له بارانه بې‌برخې یو.»

هغه بنده پوه شو چې مقصد یې دی دي. له ځان سره یې وویل: «که ووځم، رسوا به شم، که پاتې شم، قوم به مړ شي.» نو خپل سر یې په ځادر کې پټ کړ، په ریښتیني زړه یې توبه وکړه او ویې ویل: «خدایا! څلوېښت کاله دې زما پرده وکړه، اوس مې توبه قبوله کړه.»

لا یې دعا نه وه خلاصه چې باران پیل شو. موسی (ع) په حیرانتیا وویل: «خوایا! هیڅوک خو لاړ نه شو، خو باران وشو؟»

الله تعالی وفرمایل: «ای موسی! د هغه بنده په برکت مې باران واوراوه چې مخکې مې ترې منع کړی و.»

موسی (ع) وغوښتل هغه بنده وپېژني، خو الله تعالی وفرمایل: «ما هغه په ګناه کې رسوا نه کړ، اوس یې په اطاعت کې رسوا کړم؟»

## د الهي رحمت غږ:

الله تعالی فرمایي:

﴿قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِ...﴾ [الزمر: 53].
«وایه ای زما هغو بندګانو چې پر خپلو ځانونو مو زیاتی کړی، د الله له رحمت څخه مه ناهیلي کېږئ؛ بېشکه الله ټول ګناهونه ببني، هغه ببنونکی او مهربان دی.»

همدارنګه په قدسي حدیث کې راغلي:

ketabton.com - The Digital Library

«ای د آدم زویه! تر څو چې ته ما بولې او هیله راڅخه لرې، زه به دې وبښم او پروا نه کوم. ای د آدم زویه! که ستا ګناهونه د اسمان تر وريځو ورسيږي او بيا له ما ښښنه وغواړې، زه به دې وبښم. ای د آدم زویه! که ته د مځکې په اندازه ګناهونو سره ماته راشې، خو شرک دې نه وي کړی، زه به په همدومره ښښنې سره ستا هرکلي ته درشم.»

هو، د الله ښښنه دومره پراخه ده چې که بنده د مځکې په اندازه ګناهونو سره ورشي، هغه به په همدومره ښښنې سره د هغه هرکلي ته ورشي. دا د الله د رحمت يوه نښه ده چې بنده په ګناه کې ويني، خو په عذاب کې يې بيړه نه کوي؛ بلکې کله ناکله هغه په ناروغيو او ستونزو اخته کوي ترڅو بنده بېرته د هغه لوري ته وګرځي او د دعا په واسطه د اسمان دروازې وټکوي.
لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «په هوساينې او خوشحالۍ کې الله وپېژنه، ترڅو هغه دې په سختۍ کې وپېژني.»
زه هغه ځوان هيڅکله نه شم هېرولی چې په پوهنتون کې مې پېژانده؛ ښکلی، تکړه او د روغتيا او ځوانۍ په جوش کې و. خو کلونه وروسته کله چې مې ورسره اړيکه ونيوله، هغه په ډېر خفه غږ وويل چې نشي کولای زما ليدو ته راشي او ويې ويل: «خپله راشه، بيا به پوه شې.»

کله چې يې کور ته ورغلم، هغه مې په يوه سپين بستر کې پروت وليد. بدن يې ډنګر شوی و او په پښو کې يې د تګ لپاره ماشينونه لګېدلي وو. هغه په ډېرې سختۍ غوښتل زما سلام ته پاڅيږي خو ويې نه شوای کړای. ورته مې وويل: «دا څه حال دی؟ ستا خو بايد اوس واده وای، دندې او موټر پسې ګرځېدلی وای؟»

**هغه په دردمن انداز کيسه پيل کړه:**

«له پوهنتون څخه تر فارغېدو وروسته مې ښه دنده پيدا کړه، خو يو ناڅاپه به مې سر سخت خوږېده. کله چې روغتون ته لاړم، ډاکټرانو زما عکسونه او معاينات وکتل او په انګليسي يې په خپلو کې خبرې پيلې کړې. يو ډاکټر راغی او ويې ويل: ستا په مغزو کې يو تومور (cancer) دی چې په ډېر سرعت سره وده کوي او ستا د سترګو پر رګونو فشار راوړي. هر شېبه ممکن ړوند شې او بيا د مغزي خونريزۍ له امله مړ شې! بايد سبا سهار دې د کوپړۍ هډوکی لرې کړو او تومور وباسو.»
ځوان وايي: «زه سخت وډار شوم، د سرطان نوم مې په دې عمر کې نه شو زغملی. له روغتونه وتښتېدم، خو بل روغتون هم همدا خبره وکړه. بالاخره مې پلار ته زنګ وواهه. پلار مې چې اويا کلن و، په اورېدو يې پر ځمکه کېناست او

ketabton.com - The Digital Library

یوازې یې ویل: انا لله وانا الیه راجعون... هغه زما د بل ورور یاد تازه کړ چې په امریکا کې یې د سرطان درملنه کوله او بل ورور مې خالد دوه کاله وړاندې په ټکر کې مړ شوی و. پلار مې په داسې حال کې چې اوښکې یې بهېدې، زه امریکا ته ولېږلم.»

په امریکا کې تر عملیات وروسته، کار خراب شو. ځوان ته مغزي سکتې (stroke) ورکړه او د بدن چپه خوا یې فلج شوه. بیا یې سینه وشکوله چې عملیات یې کړي، خو په سږو کې یې خونریزي پیل شوه. ډاکټران د هغه له حالته تنګ شوي وو. بیا یې د بدن تودوخه ډېره پورته شوه او معلومه شوه چې د سر هډوکي یې سخت التهاب کړی دی.

ځوان وایي: «زه د یوې مړې لاشې په څېر پروت وم، اسمان ته مې وکتل او په ژړا مې دعا وکړه: پروردګاره! ماته زیان رسېدلی او ته تر ټولو مهربان یې... که دا عذاب وي نو ښښنه غواړم او که ازموینه وي نو صبر راته راکړه. مرګ مې سترګو ته ودرېد، له ځان سره مې وویل چې سبا به د قبر په خاورو کې پروت یم او د ګناهونو حساب به ورکوم. ومې ژړل او له الله څخه مې د یو چانس غوښتنه وکړه، نه د دنیا د خوندونو لپاره، بلکې یوازې د دې لپاره چې له خپل رب سره خپله اړیکه سمه کړم.»

ډاکټرانو پرېکړه وکړه چې د ده د سر پوټکی پرانیزي، د کوپړۍ هډوکی وباسي او پوټکی بېرته بې له هډوکي وګنډي! ځوان وایي: «کله چې په هوښ راغلم، ومې لیدل چې سرم ډېر نرم دی. ډاکټر وویل چې هډوکی دې دلته په ضدعفوني موادو کې ساتو او شپږ میاشتې وروسته به یې بېرته په ځای کړو.» هغه وایي: «مخکې زه په غفلت کې وم، یوازې دنیا مې یادوله، خو نن داسې یم لکه له سره چې پیدا شوی یم.»

اوه میاشتې وروسته چې کله زه بیا د هغه لیدو ته لاړم، هغه روغ رمټ و، په خپلو پښو ګرځېده او ماته یې د خپل واده کارت راکړ. نن سبا هغه یو له هغو کسانو څخه دی چې تر هر چا زیات د نېکو کارونو، د دیني کتابونو د چاپ، له غریبانو سره د مرستې او د الله لوري ته د خلکو په بللو کې بوخت دی. ربښتیا ده چې کله ناکله سختۍ او مصیبتونه په خپل منځ کې د الله لوی خیر او ښښنه پټه ساتي.

ketabton.com - The Digital Library

هو، توبه کوونکي د الله تعالی له محبوبو بندګانو څخه دي... الله پخپله فرمايلي چې هغه توبه کوونکي خوښوي، خو هغه کسان نه خوښوي چې له حده تېری کوي او ظلم کوي.

ځومره ډېر ګناهکاران دي چې شپه په خندا او خوښۍ سبا کوي، خو پروردګار پرې لعنت وايي، ملايکې ترې کرکه کوي، صالحان ورته بد دعاګانې کوي او د دوزخ اور يې ليدو ته لېواله وي!

الله ورته د اورېدو او ليدو بشپړ نعمتونه ورکړي، عقل او فکر يې روغ دی، خو هغه په همدې نعمتونو د الله په وړاندې جګړې ته ولاړ دی او د شيطان ملګری شوی. ګناه کوي خو توبه نه کوي. عجيبه ده! الله خپل نعمتونه ستا په واک کې درکوي او ته په هغو د هغهﷻ نافرماني کوې؟ فرض کړه که ته فلج وای، يا په کټ پروت ناروغ وای، يا دې سترګې او غوږونه نه لرلای... ايا بيا به دې هم همدا حال و؟

**د روغتون له کوټو عبرتناکه کيسې:**

په روغتون کې د يو ناروغ کوټې ته ننوتم، شاوخوا څلوېښت کلن ښکلی سړی و، خو له سر او غاړې پرته يې ټول بدن فلج و. کله چې تليفون زنګ وواهه، ويې ويل: «شيخ صاحب! هيله ده تليفون پورته کړې.» ما تليفون د هغه غوږ ته ونيو ترڅو خبرې يې خلاصې شوې. ومې پوښتل: «له کله راهيسې داسې يې؟» ويې ويل: «شل کاله کيږي چې زما ژوند همداسې دی.»
يو بل ملګری مې کيسه کوي: د روغتون له يوې کوټې تېرېدم چې د يو ناروغ د چيغو غږ مې واورېد، داسې نارې يې کولې چې د هر چا زړه يې رانيوه. کوټې ته ننوتم، هغه بيخي بېحرکته و او غوښتل يې واوړي خو نه يې شوای کولای. له نرس څخه مې د هغه د درد پوښتنه وکړه، ويې ويل: «دا سړی فلج دی او د کلمو تکليف هم لري، له هر ډول خواړو وروسته يې هضم خرابيږي.» ما وويل: «نو دروند خوراک مه ورکوئ، وريجې او غوښه مه ورکوئ.» نرس وويل: «تاسو پوهيږئ موږ څه ورکوو؟ په خدای قسم يوازې شيدې ورکوو، هغه هم د نل (پايپ) له لارې چې له پوزې يې تېر شوی دی.» دا دومره درد... يوازې د شيدو د هضم لپاره!

ketabton.com - The Digital Library

بل ملګري مې کیسه وکړه چې یو ناروغ یې ولید چې په بشپړ ډول فلج و، خو خلک یې ورغوښتل. کوټې ته یې ننوتم، د هغه مخې ته یو تخت و چې قرآن کریم پرې ایښی و. هغه ناروغ څو ساعته یوازې یوه پاڼه تکراروله ځکه چا یې پاڼه نه شوای اړولی. ماته یې وویل: «بخښنه غواړم، هیله ده دا پاڼه واړوه.» پاڼه مې ورته واړوله، ډېر خوشحاله شو. ما ژړا کنترول نه شوی کړی؛ د هغه لېوالتیا او زموږ غفلت، د هغه ناروغي او زموږ روغتیا ته مې حیرانتیا راغله.

**د ګناهونو شتون او پایله:**

دا د هغو ناروغانو حال و... خو ته چې روغ رمټ یې او له درده لرې یې، الله درسره څه کړي چې ته یې نافرماني کوې؟ ایا د هغه نعمتونه یو په بل پسې نه دررسیږي؟ ایا له هغه سبا نه وېرېږې چې د هغه په وړاندې به ودرېږې؟ او هغه به درته ووایي: «بنده! ایا روغتیا مې نه وه درکړې؟ ایا رزق مې نه و درکړی؟» او ته به وایې: «هو...» بیا به ووایي: «نو ولې دې زما په نعمتونو زما نافرماني وکړه؟»

ګناهونه څومره بد او خطرناک دي! پیل یې سختي، منځ یې بلا او پای یې تباهي ده. ایا له ګناه پرته بل څه زموږ پلار آدم (ع) له جنت نه وویست؟ ایا له ګناه پرته بل څه د نوح (ع) قوم غرق کړ؟ ایا د عاد او ثمود د هلاکت، د لوط (ع) د قوم د نسکورېدو او د شعیب (ع) د قوم د تباهۍ لامل له ګناه پرته بل څه و؟ الله تعالی فرمایي:
﴿فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ...﴾ [العنکبوت: 40].

«نو موږ هر یو د هغه د ګناه له امله ونیو؛ پر ځینو مو د تیږو باد راوست، ځیني په سختې چیغې سره مړه شول، ځیني مو په مځکه کې ننویستل او ځیني مو غرق کړل. الله پر هغوی ظلم نه و کړی، بلکې هغوی پخپله پر خپلو ځانونو ظلم کاوه.» نو مه حیرانېږه که د ګناه له امله په دنیا کې هم په عذاب اخته شې؛ که ناروغ شې، که په اولادونو ازمایل کېږې، که په تجارت کې تاوان کوې یا دې رزق تنګ شي.. دا ټول د ګناهونو پایله ده.

**د صالحانو ژوند:**

صالحانو خپل نفسونه په عبادت کې ستړي کول او له حرامو یې ساتل، هغوی د بشپړې هوساینې ځای یوازې جنت ګاڼه. هغوی هم کولای شول زنا وکړي، حرام وګوري یا په سود (ربا) مال ډېر کړي، خو څه شي منع کړل؟ هغوی د قیامت له ورځې او د الله له عذابه وېرېدل.

ketabton.com - The Digital Library

امام احمد بن حنبل (رح) به خپل نفس ډېر په عبادت او لمونځ ستړی کاوه. یو ورځ یې زوی عبدالله ورته وویل: «پلاره! کله به ارام وکړې؟» ویې فرمایل: «کله چې مې لومړی ګام په جنت کې کېښود.»

توبه کوونکی باید د هغو مصیبتونو، ملنډو او کړاوونو په وړاندې صبر وکړي چې د توبې له امله ورته رسېږي. ځکه تر ټولو زیات ازمېښتونه پر پیغمبرانو راغلي، بیا پر صالحانو او بیا په همدې ترتیب پر هغو کسانو چې له پیغمبرانو سره ډېر ورته والی لري... مؤمن بنده تر هغه په ازمېښتونو کې پاتې کېږي چې په ځمکه داسې وګرځي چې هیڅ ګناه پرې پاتې نه وي. پام کوه چې د هغو کسانو ډېرښت (اکثریت) دې ونه غولوي چې په ګناهونو کې ډوب دي؛ هغه کسان چې شیطان غولولي او یوازینۍ غم ښادۍ یې خپل شهوتونه دي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ﴾ [الأنعام: 116]. «او که ته په ځمکه کې د ډېری خلکو پیروي وکړې، نو هغوی به دې د الله له لارې بې‌لارې کړي.»

**له توبې وروسته ژوند:**

له توبې وروسته ژوند، کټ مټ هغه ژوند دی چې ته ورته پیدا شوی یې. که په هره شېبه کې دا احساس کوې چې د خدای دښمن یې، د شهوتونو پیروي کوې او په حرامو کې ډوب یې، نو د داسې ژوند خوند څه دی؟ په داسې حال کې چې ستا پروردګار تاته خواړه او اوبه درکوي، په ناروغۍ کې شفا درکوي، مړ کوي دې او بېرته دې ژوندی کوي... بلکې ستاسو د بدن هر وېښته او د وجود هره ذره یوازې د هغه په اجازه حرکت کوي.

هر څوک چې په ریښتیني زړه توبه وکړي، هغه د دې دین په یو سرتېري بدلېږي؛ په نېکۍ امر کوي، له بدۍ منعه کوي او د دین غم ورسره وي. کله به چې کوم صحابي له محمد ﷺ سره د بیعت لپاره لاس ورکاوه، نو وروسته به یې دا احساس کاوه چې هغه د دې دین یو خدمتګار او سرتېری دی.

**د ضمضام بن ثعلبه (رض) کیسه:**

ketabton.com - The Digital Library

ابن اسحاق روايت کوي: کله چې پيغمبر ﷺ په مدينه کې ځواکمن شو، خپل ياران يې شاوخوا کليو او دښتو ته د دعوت لپاره ولېږل. يو صحابي يې طايف ته نږدې «وادي نعمان» ته ولېږه. کله چې هغه صحابي هلته ورغی، له داسې له شاړو عربو (باديه‌نشينانو) سره مخ شو چې له اوښانو او پسونو پرته يې په ژوند کې بل څه نه پېژندل. کله چې يې هغوی اسلام ته را وبلل، هغوی ورته پاملرنه ونه‌کړه. خو په هغوی کې يو سړی مدينې ته لاړ ترڅو پخپله د دې پيغمبر په اړه معلومات ترلاسه کړي.

هغه پر خپل اوښ سپور شو او مدينې ته راورسېد. په چيغو يې ويل: «د عبدالمطلب زوی چېرته دی؟» يو چا جومات ته بوتللو. کله چې جومات ته ننوت، رسول الله ﷺ له خپلو اصحابو سره ناست و. د دغه اعرابي سړي وېښتان په دوو برخو اوبدل شوي وو. اوښ يې د جومات په دروازه کې وتړه او ويې ويل: «ستاسو په منځ کې د عبدالمطلب زوی څوک دی؟»

پيغمبر ﷺ وفرمايل: «زه د عبدالمطلب زوی يم.»
اعرابي وويل: «محمد؟»

ويې فرمايل: «هو.»

اعرابي وويل: «ای د عبدالمطلب زويه! زه به له تا پوښتنې وکړم او په خپلو پوښتنو کې به ډېر توند يم، له ما نه خو به خفه کېږې نه.» پيغمبر ﷺ په ډېرې لورينې وفرمايل: «نه خفه کېږم... هر څه چې غواړې وپوښته.»

اعرابي وپوښتل: «اسمان چا لوړ کړی؟» ور ته يي وفرمايل: «الله.»

«ځمکه چا غوړولې؟» ويې فرمايل: «الله.»

«غرونه چا ايښي؟» ويې فرمايل: «الله.»

اعرابي وويل: «د هغه ذات په خاطر چې اسمان يې لوړ کړی، مځکه يې غوړولې او غرونه يې درولي، له تا پوښتنه کوم: ايا الله ته د يو پيغمبر په توګه موږ ته رالېږلی يې؟»

ويې فرمايل: «هو.»

ketabton.com - The Digital Library

بیا یې د اسلام د فرایضو په اړه یو په یو وپوښتل: «ایا الله امر کړی چې پنځه وخته لمونځ وکړو؟ ایا امر یې کړی چې زکات ورکړو؟ ایا امر یې کړی چې روژه ونیسو؟»

پیغمبر ﷺ په هر ځواب کې ویل: «هو.»

کله چې یې پوښتنې خلاصې شوې، ویې ویل:

«زه ضمضام بن ثعلبه د بني بکر بن سعد له قبیلې څخه یم. شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او محمد د هغه بنده او استازی دی. زه به دا فرایض ترسره کوم او له هغو شیانو به ډډه کوم چې تا ترې منعه کړی یم، نه به یې زیاتوم او نه به یې کموم.»

کله چې هغه روان شو، پیغمبر ﷺ وفرمایل: «که دا د دوو کوڅیو (وېښتانو) خاوند رښتیا ووایي، نو جنت ته به داخل شي.»
ضمضام سمدستي خپلې قبیلې ته ورغی. لومړۍ خبره چې خپل قوم ته یې وکړه دا وه: «لات او عزی (بتان) څومره بد خدایان دي!»
قوم یې وویل: «خوله دې بنده کړه ای ضمضامه! له لېونتوب او برص (پیس) نه ووېرېږه!»
هغه وویل: «افسوس ستاسو پر حال! دا بتان نه ګټه رسولی شي او نه زیان. الله یو پیغمبر رالیږلی او کتاب یې پرې نازل کړی ترڅو تاسو له دې حالته وژغوري. زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او محمد د هغه استازی دی.»
هغه په خپله قبیله کې دعوت پیل کړ، تر دې چې لا د هغه ورځې لمر نه و لوېدلی چې په ټول قوم کې یې یو کافر هم پاتې نه شو (ټول مسلمان شول).

رښتیا چې توبه یوازې یو قول نه دی، بلکې یو نوی پیل او یو لوی بدلون دی. ایا نن سبا هم د توبه کوونکو په منځ کې د دین د خپرولو او له مؤمنانو سره د مرستې داسې جذبه شته؟

ډېر داسې توبه کوونکي وو چې په خپل جاهلیت کې د ګناهونو، منکراتو او شهوتونو مخکښان وو، خو له توبې، اصلاح او پر سمه لاره له استقامت وروسته، د پخوا په خلاف چې مشران وو، اوس پیروان شول... پخوا سپاره وو او اوس

ketabton.com - The Digital Library

پلي شول!

عجيبه ده! په جاهليت کې (قوي) وو او په اسلام کې (ستړي او بې وسه)! داسې کسان نه د دعوت په لاره کې، نه په اصلاح کې او نه د ناپوهانو په ښوونه او د غافلانو په نصيحت کې اسلام او مسلمانانو ته هيڅ ګټه نشي رسولی.

**د نفس محاسبه (د ابوبکر صديق رض کيسه)**:

هر څوک چې په خپل زړه کې د پروردګار مقام او عزت لوی وګڼي، هغه به خپل نفس په کلکه محاسبه کړي.

زيد بن ارقم (رض) وايي: ابوبکر صديق (رض) يو مريی درلود چې کار يې کاوه او په هغو پيسو به يې هره ورځ خواړه اخيستل. يوه شپه يې ابوبکر ته خواړه راوړل، ابوبکر ترې يوه مړۍ وخوړه. مريي وويل: «هره شپه به دې له ما پوښتنه کوله، نن ولې بې پوښتنې خورې؟» ابوبکر وويل: «د ډېرې لوږې له امله مې پوښتنه ونه‌کړه، دا خواړه دې له کومه کړي؟» مريي وويل: «په جاهليت کې له يو قوم تېرېدم، هغوی ته مې کوډې او وړاندوينې (کاهني) وکړې، سره له دې چې زه په دې کار نه پوهېدم! هغوی راسره ژمنه کړې وه چې بدل به راکوي، نن مې هغوی وليدل چې واده يې و او دا خواړه يې راکړل.»

ابوبکر وويل: «افسوس پر تا! نږدې و چې ما تباه کړې!» بيا يې په خپله مړۍ کې ګوته ننه ايستله ترڅو هغه مړۍ بېرته راوباسي، خو نه راووتله. ورته وويل شول چې دا پرته له اوبو نه راوځي. اوبه يې راوغوښتې، اوبه يې څښلې او بيرته يې راګرځولې (استفراق يې کاوه) تر دې چې هغه مړۍ راووتله. ورته وويل شول: «الله دې پر تا رحم وکړي! د يوې مړۍ لپاره دومره تکليف؟» ابوبکر صديق (رض) وفرمايل: «که زما ساه هم ورسره وتلای، ما به دا مړۍ ايستلې وای... ځکه له پيغمبر ﷺ نه مې اورېدلي وو چې: هر هغه بدن چې په حرامو لويه شي، اور ورته ډېر لومړيتوب لري. نو وډار شوم چې هسې نه زما د بدن کومه برخه په دې مړۍ لويه شي.»

**د عمر بن الخطاب (رض) تقوا:**

ketabton.com - The Digital Library

اميرالمؤمنين عمر (رض) ته له شامه د تيلو يو بار راغی ترڅو يې وپلوري او پيسې يې بيت‌المال ته ورکړي. عمر (رض) تيل د خلکو په لوښو کې اچول او کله به چې کوزه خالي شوه، څنګ ته به يې ايښودله. د عمر يو کوچنی زوی هلته ناست و، کله به چې کوزه خالي شوه، هغه به راواخيسته او پر خپل سر به يې ونيوله ترڅو يو څو څاڅکي تيل يې پر سر توی شي. د عمر (رض) ناڅاپه ورپام شو چې د زوی ويښتان يې د تيلو له امله ځليږي. ويې پوښتل: «دا تيل دې له کومه کړل؟» زوی يې وويل: «له هغه څه نه چې په کوزه کې پاتې وو.»

عمر (رض) وفرمايل: «زه وينم چې ستا ويښتان د مسلمانانو له تيلو غوړ شوي پرته له دې چې بيه يې ورکړل شوې وي... په خدای قسم اجازه نه ورکوم چې الله مې د دې تيلو په خاطر محاسبه کړي!» بيا يې زوی حجام ته وسپاره ترڅو يې سر ورته وخرييي، هغه هم يوازې د يو څو څاڅکو تيلو په خاطر.

**د بدې خاتمې او ښې خاتمې پرتله:**

هغه کسان چې په شهوتونو کې ډوب دي، په ژوند کې بدبخته او د مرګ پر مهال په حسرت کې وي. يو ډاکټر کيسه کوي: «يو ۲۵ کلن ځوان مې وليد چې د ايډز (AIDS) په ناروغۍ اخته و او د مرګ په حال کې و. مور يې وويل چې هغه لمونځ نه کاوه او نيت يې درلود چې په زړښت کې به توبه وکړي او حج ته به لاړ شي!»

ډاکټر وايي: «ورنږدې شوم، غوښتل مې ورته کلمه (لا اله الا الله) تکرار کړم، خو هغه په ژړا وويل: آه... ډېر درد لرم، مسکن (د درد دوا) غواړم. بيا مې ورته وويل: کلمه ووايه! خو هغه په ډېرې سختۍ وويل: نشم کولای... نشم کولای... خپله معشوقه (دوست‌دختر) غواړم! او په همدې حال کې يې ساه ورکړه او مخ يې تور شو.»

خو دا ځوان له هغه بل ۱۶ کلن ځوان سره پرتله کړه:

هغه په جومات کې قرآن لوست او د سهار لمانځه ته منتظر و. کله چې لمونځ پيل شو، هغه په صف کې په ځمکه راولوېد. ډاکټر وايي: «کله چې مې معاينه کړ، هغه سختې زړه بورېنونکې حملې (سکته) نيولی و او د مرګ په حال کې و. يو

ketabton.com - The Digital Library

ډاکټر د هغه خولې ته غوږ نږدې کړ، ځوان ورته څه وويل او بيا يې کلمه وويله: اشهد ان لا اله الا الله... او ساه يې ورکړه.»
هغه ډاکټر چې دا خبرې يې اورېدلې وې، سخت يې وژړل. کله چې ترې وپوښتل شول ولې ژاړې؟ ويې ويل: «هغه ځوان راته وويل: ډاکټره! هغه د زړه ډاکټر ته ووايه چې ځان مه ستړی کوه، زه حتماً تلونکی يم... په خدای قسم چې همدا اوس په جنت کې خپل ځای وينم!»

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ...﴾ [فصلت: 30].
«بېشکه هغه کسان چې وايي زموږ رب الله دی او بيا پرې کلک ودرېږي، ملايکې پرې راکښته کېږي چې مه وېرېږئ او مه خفه کېږئ او په هغه جنت خوشحاله شئ چې وعده درسره شوې وه.»

دا د اطاعت او گناه د خاوندانو ترمنځ توپير دی... خو ريښتينی توپير به په هغه ورځ ښکاره شي کله چې:

﴿يَوۡمَ يَفِرُّ ٱلۡمَرۡءُ مِنۡ أَخِيهِ...﴾ [عبس: ۳۴-۴۲].

«هغه ورځ چې انسان له خپل ورور څخه تښتي، او له خپلې مور او پلار څخه، او له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه. په هغه ورځ به د هر سړي داسې حال وي چې هغه به (يوازې) خپل ځان ته بوخت وي. په هغه ورځ به ځينې مخونه ځلېدونکي وي، خندني او خوشحاله به وي. او ځينې مخونه به په هغه ورځ په دوړو لړلي وي، توره تياره به پرې خپره وي. دا هماغه کافران او بدکاره خلک دي.»
يو غوټه په اور کې، يو غوټه په جنت کې

هغه کسان چې د شهوتونو په وړاندې يې صبر وکړ او خپل نفس يې له حرامو وساته، پروردگار ورته د داسې جنت وعده کړې چې تر ونو لاندې يې سيندونه بهېږي؛ داسې ځای چې نه سترگو ليدلی، نه غوږونو اورېدلی او نه د کوم انسان زړه ته ورگرځېدلی دی.

امام مسلم روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:
«د دوزخيانو په منځ کې به هغه څوک راوستل شي چې په دنيا کې يې تر ټولو ډېر خوندونه ليدلي وي، هغه به يو ځل په اور کې غوټه کړل شي. بيا به ترې وپوښتل شي: اې د آدم زويه! ايا کله دې په ژوند کې کومه نېکي ليدلې؟ ايا کله دې کوم خوند تجربه کړی؟ هغه به ووايي: نه، په خدای قسم ای زما ربه! (يعني د

ketabton.com - The Digital Library

اور یوه غوټه به د دنیا د ټول عمر خوندونه ترې هېر کړي).»
افسوس! په هغه حال کې به هغه فحشا، هغه حرامې سندرې، هغه شراب او هغه حرام مالونه به څه په درد وخوري چې ده په دنیا کې ترې خوند اخیست؟ کله چې ورته وویل شي: ﴿ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ﴾ (په دوزخ کې ورک شئ او له ما سره خبرې مه کوئ).

خو له بلې خوا...

«د جنتیانو په منځ کې به هغه څوک راوستل شي چې په دنیا کې یې تر ټولو ډېرې سختۍ لیدلې وي. هغه به په جنت کې یو ځل غوټه کړل شي. بیا به ترې وپوښتل شي: اې د آدم زویه! ایا کله دې کومه سختي لیدلې؟ ایا له کوم تنګسیا سره مخ شوی یې؟ هغه به ووایي: نه زما ربه! په خدای قسم نه مې کله سختي لیدلې او نه له کومې تنګسیا سره مخ شوی یم.»
په جنت کې یوه غوټه د دنیا د ټول عمر غمونه هېروي. نو هغه وخت به څه حال وي چې بنده د خپل پروردګار دیدار وکړي؟ هغه خوند چې تر هر څه لوړ دی. الله تعالی فرمايي: ﴿لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيۡنَا مَزِيدٞ﴾ (دوی ته به په جنت کې هغه څه وي چې غواړي یې، او زموږ سره تر هغه هم زیات شته).

**د توبې په اړه څلور مهمې مسئلې:**

مخکې له دې چې دا بحث پای ته ورسوو، څلور مهم ټکي باید په یاد ولرو:
۱. د شرک خطر:

تر ټولو لویه ګناه له الله سره شرک کول دي. لکه له غیر الله څخه د حاجتونو غوښتل، اولیاوو ته نارې وهل، یا په قبرونو ودرېدل او له مړیو څخه د ستونزو حل غوښتل. الله فرمايي چې دا خلک تر ټولو ډېر بې‌لارې دي ځکه هغه څوک بولي چې د قیامت تر ورځې ځواب نه شي ورکولای.
۲. د مهرو او تعویذونو شرک:

ځینې خلک پر ځان، ماشومانو یا موټرو باندې مهرې، شنه تسبیح یا تعویذونه د "سترګو د بد" د مخنیوي لپاره ځړوي. پیغمبر ﷺ فرمايي: «چا چې تمیمه (تعویذ یا مهره د داسې عقیدې لپاره) وځړولو، شرک یې وکړ.»
۳. په غیر الله قسم خوړل:
په کعبه، امانت، شرف، د پلاني په سر، د مور او پلار په جان یا د پیغمبر په مقام قسم خوړل حرام دي. که چا په خطا کې داسې قسم له ژبې وویست، کفاره یې دا

ketabton.com - The Digital Library

ده چې سمدستي ووايي: "لا اله الا الله".
۴. جادوګر او فالګر:

جادوګرۍ ته تلل او د هغوی خبره منل د کفر تر حده لویه ګناه ده. رسول الله ﷺ فرمايي: «څوک چې کاهن یا فالګر ته ورشي او د هغه خبره رښتیا وګڼي، هغه په هغه څه کفر وکړ چې پر محمد ﷺ نازل شوي دي.» حتی په مجلو کې د میاشتنې فال کتل یا له غیب ویونکو سره تماس نیول هم حرام دي.
**د لمانځه پرېښودل او د زنا خطر:**

د لمانځه پرېښودل یوه داسې ګناه ده چې انسان له اسلامه وباسي. پیغمبر ﷺ فرمايي: «د بنده او کفر ترمنځ فرق د لمانځه پرېښودل دي.» که یو څوک لمونځ نه کوي، د هغه نکاح نه کېږي، ذبحه یې حرامه ده او که مړ شي، د مسلمانانو په قبرستان کې نه ښخېږي.

همدارنګه زنا تر شرک او قتل وروسته لویه ګناه ده. نن سبا د فحشا دروازې د انټرنیټ، فلمونو او بې‌حجابۍ له لارې پرانیستل شوې دي.
ای الله! موږ ته په خپلو چارو کې د توبې توفیق راکړه، زموږ زړونه پاک کړه، موږ له فحشا څخه لرې وساته او زموږ او د ګناهونو ترمنځ کلک خنډ وګرځوه.

د ګناهونو له جملې څخه د خلکو مال خوړل او سودخوري ده... الله تعالی فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ...﴾ [البقرة: ۲۷۸-۲۷۹].
«اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! له الله څخه ووېرېږئ او که مؤمنان یاست، نو هغه سود چې پاتې دی، پرېږدئ. که داسې مو ونه‌کړل، نو د الله او د هغه د رسول له لوري د جنګ اعلان واورئ.»
د دې جرم د ناوړه والي لپاره همدغه آیت بس دی چې الله ورسره د جنګ اعلان کړی دی. رسول الله ﷺ د سود خوړونکی، ورکوونکی، لیکونکی او شاهدان ټول لعنت کړي او فرمايلي يې دي چې دا ټول په ګناه کې سره برابر دي. په یوه صحیح حدیث کې راغلي چې سود ۷۳ درجې لري چې تر ټولو کوچنۍ یې داسې ده لکه یو سړی چې له خپلې مور سره زنا وکړي، او تر ټولو بده یې د مسلمان ابرو (عزت) ته لاس اچول دي. په بل حدیث کې راغلي چې د سود یو درهم خوړل تر ۳۶ ځله زنا بدتر دي.

ketabton.com - The Digital Library

**د نشه‌يي توکو او موسيقۍ خطر:**

بله لويه ګناه د شرابو او نشه‌يي توکو کارول دي. رسول الله ﷺ فرمايلي: «څوک چې مسکرات (نشه‌يي توکي) وڅښي، الله به ورته "طينة الخبال" ورکوي.» اصحابو وپوښتل: هغه څه شی دی؟ ويې فرمايل: «د دوزخيانو خوله او زوې.» په بل حديث کې راغلي څوک چې په نشه روږدی مړ شي، هغه به له الله سره د بت‌پرست په څېر مخامخ شي. نن سبا نشې ډول ډول نومونه لري لکه بير، عرق، شيمپين سيګرټ نصوار او داسې نور.

همدارنګه د ساز، سرود او موسيقۍ اورېدل هم ګناه ده. رسول الله ﷺ فرمايلي: «زما په امت کې به داسې خلک پيدا شي چې زنا، وريښم، شراب او آلات موسيقی به حلال وګڼي.» او بل ځای فرمايي کله چې په امت کې شراب عام شي، سندرغاړې ښځې او د موسيقۍ وسايل وکارول شي، نو د ځمکې ښويېدو او د شکلونو د بدلېدو عذابونه به راشي. نن سبا دا بلا په ساعتونو، زنګونو، د ماشومانو په لوبو او موبايلونو کې ډېره خپره شوې ده.

**د توبې په اړه دويمه مسئله:**

کله چې يو څوک غواړي له يوې ګناه (مثلاً موسيقۍ) نه توبه وکړي، شيطان ورته وايي: «ته خو لا سګرټ څکوې يا په لمانځه کې سستي کوې، ستا توبه نه قبلېږي! يا ټول ګناهونه يوځای پرېږده او يا ځان مه ستړی کوه.» دا يو باطل تصور دی. د هرې ګناه توبه ځانګړې ده. که څوک له يوې ګناه توبه وکړي، الله يې ترې قبلوي که څه هم په نورو کې اخته وي. خو بنده بايد هڅه وکړي چې ټول ګناهونه پرېږدي. که له توبې وروسته بيا هم ګناه ترې وشوه، بايد نااميده نشي، بلکې سمدستي دې اودس وکړي، دوه رکعته لمونځ دې وکړي او بښنه دې وغواړي، الله يې ببښي.

**د توبې پنځه شرطونه** (درېيمه مسئله)

د توبه نصوحه لپاره دا شرطونه لازمي دي:

١. سمدستي له ګناه څخه لاس اخيستل.

٢. پر هغې ګناه په زړه کې پښيمانه کېدل.

٣. کلک هوډ کول چې بيا به دا ګناه نه کوم.

ketabton.com - The Digital Library

۴. که د خلکو حق وي، نو هغه ورته بېرته ورکول یا ترې ببښنه غوښتل.
۵. دا چې توبه باید پر خپل وخت وي (یعنې د ځنکندن له حالته او د لمر له لوېدیځه له راختلو مخکې). ځکه انسان نه پوهېږي چې مرګ کله ورته راځي.

**وروستۍ مسئله:**

پر توبه د ثابت قدم پاتې کېدو یو له مهمو لاملونو څخه د هغه ځای پرېښودل دي چې انسان پکې ګناه کړې وي... همدارنګه د هغو ملګرو پرېښودل چې انسان ته ګناه ور یادوي یا یې ورته هڅوي.

په صحیحین کې د هغه سړي کیسه راغلې چې لاسونه یې د بې‌ګناه خلکو په وینو لړلي وو او نهه نوي (۹۹) کسان یې وژلي وو... بیا یې وغوښتل توبه وباسي، خو شکمن و چې آیا الله به یې توبه قبوله کړي؟ هغه چې ماشومان یې یتیمان کړي، ښځې یې کونډې کړي او کورونه یې وران کړي وو. د هغه سیمې د تر ټولو پوه سړي پوښتنه یې وکړه؛ خلکو یو عابد ور وښود. ورغی او ورته ویې ویل چې ۹۹ کسان مې وژلي، آیا توبه مې قبلېږي؟ عابد ورته وکتل، ویې لیدل چې ده پر بندګانو ډېر ظلم کړی او فساد یې کړی، نو ورته ویې ویل: نه! ستا توبه نه قبلېږي. هغه سړی غصه شو، عابد یې هم وواژه او سل (۱۰۰) یې پوره کړل!

له هغه ځایه روان شو، بیا یې د توبې فکر وکړ او د سیمې د تر ټولو عالم سړي پوښتنه یې وکړه. یو عالم ور وښودل شو. ورغی او ویې ویل چې ۱۰۰ کسان یې وژلي، آیا توبه یې قبلېږي؟ عالم ورته وویل: هو! څوک ستا او د توبې ترمنځ خنډ کېدای شي؟! خو باید فلاني ځای ته لاړ شې چې هلته نېک خلک عبادت کوي، له هغو سره یوځای د الله عبادت کوه او خپلې سیمې ته بیا مه راګرځه ځکه هغه بده سیمه ده.

توبه کوونکی سړی روان شو؛ کله چې نیمې لارې ته ورسېد، مرګ راغی او ساه یې ورکړه. د رحمت ملایکو او د عذاب ملایکو د هغه د روح په سر جنجال وکړ. د رحمت ملایکو ویل: ده توبه کړې وه او په پوره زړه الله ته روان و. د عذاب ملایکو ویل: ده هیڅ نېک کار نه دی کړی! یوه ملایکه د انسان په بڼه راغله او دوی هغه قاضي وټاکه. هغه وویل: د دواړو

ketabton.com - The Digital Library

سیمو ترمنځ واټن کچ کړئ، هرې یوې ته چې نږدې و، د هغې دی. الله تعالی (بدې) سیمې ته وحې وکړه چې لرې شه او (نېکې) سیمې ته یې وحې وکړه چې نږدې شه. کله چې یې لاره کچ کړه، هغه نېکې سیمې ته نږدې وخوت، نو د رحمت ملایکو یې روح واخیست.

وګوره هغه عالم ګناهکار ته څه وویل؟ ویې ویل: خپل ځای پرېږده ځکه هغه بد ځای دی. همداسې هر څوک چې غواړي له زنا، د لمانځه له پرېښودو، موسیقۍ، سود یا شرک څخه توبه وباسي، باید هغه ځایونه او هغه ملګري پرېږدي چې ده ته د ګناه زمینه برابروي.

له الله تعالی څخه د هغه په ښایسته نومونو غوښتنه کوم چې موږ ته خپله داسې وېره راکړي چې زموږ او د ګناهونو ترمنځ خنډ شي... او د خپل اطاعت داسې توفیق راکړي چې جنت ته مو ورسوي... زموږ ګناهونه او زیاتی وبښي، موږ په خپل حلالو له حرامو او په خپل فضل له نورو بې‌نیازه کړي... زموږ توبه قبوله او ګناهونه مو پاک کړي. بېشکه هغه اورېدونکی او د دعا قبلونکی دی. درود او سلام دې وي پر پیغمبر محمد ﷺ، د هغه پر آل او اصحابو.

# پای

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*